

Baghlan University Academic
Research Journal
*https://baghlan.edu.af/ Vol. 12, Issue. 1, Serial No. 34 (2024) 64-78*

# The Shari'a Order of Mercy Killing (Qatal al-Rahma)

**Abdulwahid Liaqat**

Department of Jurisprudence and Law, Law Faculty, Afghan International Islamic University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Abdulwahid Liaqat , **E-mail**:

| Article Info | ABSTRACT |
|---|---|

**Article Type:**
Review Article

**Article History:**

Received: 4, June, 2024

**Revised:** 4, July, 2024


Accepted: 17, July, 2024

**Published:** 23, July, 2024

Human life is the most valuable human right, and it also serves as the foundation for all other rights. A person cannot exercise any fixed right in the absence of life, which is why Allah forbade killing and made all forms of trespassing and swearing against mankind. Qatal al-ur Rahma, or Qatal al-Rahim, or mercy killing, is a new theme among the contemporary themes. It is imperative that the Shariah order of these novel subjects be made clear to the community and its members.

**Keywords:** punishment, mercy, Sharia law, and mercy killing.

To cite this article: Liaqat, A. : 2024. The Shari'a Order of Mercy Killing (Qatal al-Rahma). Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 12, Issue. 1, Serial No. 34 - Spring – Summer (2024), 64-78.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan



**د بغلان پوهنتون علمي او څېړنیزه مجله**

**مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان**

https://baghlan.edu.af/ *Vol 12. Issue. 1, Serial No. 34 (2024) 64-78*


# د مهرباني وژنې شرعي حکم


**پوهندوی ډاکټرعبدالواحد لیاقت**

**د افغان نړیوال اسلامی پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی د فقه او قانون څانګې استاد.**


| اطلاعات مقاله | لنډيز |
|---|---|
| **نوع مقاله:** مقاله مروری<br>**تاریخ دریافت:** ۱۴۰۳/۰۳/۱۵ هـش<br>**تاریخ بازنگری:** ۱۴۰۳/۰۴/۱۴ هـش<br>**تاریخ پذیرش:** ۱۴۰۳/۰۴/۲۷ هـش<br>**تاریخ انتشار:** ۱۴۰۳/۰۵/۲ هـش | په انساني حقوقو کې، د انسان ژوند تر ټولو قیمتي حق دی؛ په همدې توګه ژوند، د ټولو حقوقو اساس دی.چې ژوند نه وي، انسان د هېڅ مقرر حق څخه استفاده نه شي کولای؛ نو ځکه الله تعالی وژنه حرامه کړې او هر قسم تېری او تجاوز يې، د کوم لامل نه بغیر، په انسان حرام ګرځولی. د معاصرو موضوعاتو څخه، یوه نوې موضوع د مهرباني وژنه ده، چې په قتل الرحمة یا قتل الرحیم سره هم يادېږي. اړتیا ډېره ده، چې ددې ډول نوو موضوعاتو شرعي حکم، ټولنې او د ټولنې ټولو وګړو ته روښانه شي، د دې موضوع په څېړلو کې ما د تحلیلي روش څخه ګټه پورته کړې او هڅه مې کړې، چې د موضوع اړوند ټولې خواوې روښانه کړم. |


**کلیدي کلمې:** مهرباني وژنه، شرعي حکم ، جزا ، رحمة.

استناد: لیاقت، عبدالواحد. (۱۴۰۳)، د مهرباني وژنې شرعي حکم ، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۱، بهار و تابستان(۱۴۰۳)، شماره مسلسل ۳۴، دور۱۲. (۶۴-۷۸) .

ناشر: پوهنتون بغلان.

**سریزه**

انسان الله تعالی اشرف المخلوقات او ډېر په ښه او ښایسته شکل سره پیدا کړی دی، الله تعالی د انسان د پیدایښت پرېکړه، د یو ستر هدف او مقصد سرته رسولو په خاطر وکړه، چې د الله تعالی عبادت وکړي، په هغه شان چې الله تعالی او د هغې رسول (صلی الله علیه وسلم) یې مونږه ته لارښوونه کړې ده، ولې چې د انسانانو نه وړاندې په دنیا کې، پیریان میشته وو او دوی د الله تعالی څخه سرکښي پیل کړه او د الله تعالی حکمونه په هغه شان چې امر ورته شوی و، سرته نه رسول نو؛ په دغه وخت کې ملایکو الله تعالی ته عرض وکړ، چې انسانان مه پیدا کوه ولې چې دوی به هم د پیریانوپه شان سرکښې وکړي؛ خو الله تعالی ملایکو ته وویل: (( زه پوهیږم په هغه څه چې تاسو پرې نه پوهیږي ))، نو د انسانانو پلار آدم علیه السلام یې له خاورو نه پیدا کړ او ملایکو ته یې امر وکړ، چې د انسانانو پلار آدم علیه السلام ته سجده وکړي ټولو ملایکو سجده وکړه؛ مگر شیطان علیه اللعنة سجده ونه کړه، لوېې وکړه او وویل، زه دې له اور نه پیدا کړی یم او آدم دې له خاورو نه، نو زه څنگه آدم ته سجده وکړم، نو له دې کبله د ورځ د قیامت پورې ملعون وگرځېده.

دا چې الله تعالی انسان ته د ژوند حق  او عزت ور کړی، په خپل قدرت یې پیداکړی، ملائکه یې ورته  په سجده کولو مکلفې کړي او هغه چې په اسمانو او ځمکه کې دي، هغه یې ورته تابع گرځولي او په ځمکه کې یې د خپل خلیفه شرف ور په برخه کړی. د ملایکو سجده د انسانانو پلار ته، د انسان د عظمت او لوی شان په معنی ده. دا چې انسان پیدایښت  مهم دی؛ نو ژوند یې هم د الله تعالی پر وړاندې ډېر زیات ارزښت لري؛ ځکه چې د یو انسان وژنه د ټول انسانیت وژنه ده او د یو انسان  ژوند ژغورنه د ټول انسانیت د ژوند ژغورنه ده.

د مهربانۍ وژنه یوه انساني ستونزه ده، د انسان وژنه یو جرمي عمل دی، چې شرعا جواز نه لري. خو دلته بنسټېزه ستونزه داده، چې د مهربانۍ په وژنه کې وژنه  یو زړه سوانده عمل دی. دلته پوښتنه دا را پورته کیږي، چې شرعا ډاکټر ته جایز ده، هغه ناروغ چې د روغتیا هیله یې نه وي په قصد سره مړ کړي او یایې په مرگ سره له دردونو نه خلاص کړي؛ ځکه فعلا د نړۍ په هره ټولنه کې داسې ناروغان شته دي، چې په صعب العلاجه ناروغیو اخته دي؛ لکه مغزي سرطان او داسې نور.

چې ناروغ د ډېر سخت حالت سره مخ وي، هرڅومره درملنه چې کوي فایده نه کوي، حالت یې ورځ تر بلې ناوړه کیږي، د ناروغ  ناروغي داسې حالت ته رسي، چې  ناروغ او کورنۍ یې ناهیلي کیږي او ناروغ د ډېر درد او بد حالت سره مخ وي. هرڅوک یې چې ویني او پوښتنې ته راځي،

سخت متاثره شي وايي، چې د دې حالت نه مرگ سل واره بهتره دی او ډاکټر هم وايي چې نه ښه کيږي او کورنۍ يې هم ور سره په تکليف وي له درملنې يې ناهيلي وي ډاکټرانو ځواب ورکړی.

د مهربانۍ وژنه پېژندل، او هغه شرعي حکم بيانول او څوک چې داسې عمل تر سره کوي، د هغه مسؤليت او جزا بيانول، د ډاکټر، کورنۍ او د ناروغ مسؤليت بيانول او د دوی د دغه عمل مسؤليت او شرعي حکم روښانه کول.

ناروغ او يا کورنۍ يې غواړي، چې د ناروغ ژوند نور ختم کړي او زر مړ شي او ډاکټر هم هغه وسايل ور باندې بندوي، چې ناروغ پرې ژوند کوي. لکه اکسجن او داسې نور، شرعی حکم يې څه دی؟

ناروغ دوا او خواړه نه خوري، وايې پرېږدی چې مړ شم او کورنۍ يې هم وايي چې زر مړ شي. اوس د دغه مرگ شرعي حکم څه دی؟ جواز لري يايې نه لري؟ د ډاکټر او کورنۍ مسووليت يې څه شی دی؟

که څوک داسې عمل تر سره کړي، دنيوي او اخروي جزايې د شريعت په رڼا کې څه ده؟

**د څېړنې کړنلاره:** په دې څېړنه کې له توصفي، تحليلي او کتابتوني تگلارې څخه گټه اخيستل شوې ده.

د اياتونو په ترجمه او تفسير کې له کابلی تفسير څخه مو استفاده کړی.

په دې تړاو داسې ويلای شو، چې په دې موضوع کې، لاندې ليکنې شوې دي.

الاهمية لتحديد لحظة الوفاة لصفا حسن العجيل، بحوث و فتاوی اسلامية فی قضايای معاصرة لجادالحق علي، حماية الحياة الخاصة للمريض لرضا هميسی ومحمد لموسخا، احکام التداوي والحالات الميوس منها لمحمد علی البار او داسې نور ليکن دا څېړنې په عربي ژبي شوې دی. په عام ډول په تفصيل سره او دا ليکنه په ملي ژبه ده، په خاص او لنډ ډول سره ترتيب شوې.

په دغه څېړنه کې لاندې موضوعات راغلي دي: لنډيز، سريزه، بنسټيزې کلمي، منځپانگه، مناقشه، پايلې او اخذليکونه.

**د مهرباني وژنې معنا او مفهوم:** وژنه (قتل) په لغت کې: (فِعْلٌ يَحْصُل بِهِ زُهُوقُ الرُّوحِ) (الحموی، ۷۷۰هه:۳۱۳/۷)

ژباړه: وژنه هغې کړنې ته ويل کيږي، چې د ژوندي انسان روح پرې اخيستل کيږي، يعنې وژنه هغه کړنه ده، چې په وسيله يې ژوندی انسان خپل روح بايلی(ابن فارس، ۱۹۴۰م:۴۴٦).

ب ــ د وژنې اصطلاحي تعريف: وژنه په اصطلاح کې: (وَهُوَ فِعْلٌ مِنْ الْعِبَادِ تَزُوْلُ بِهِ الْحَيَاةُ)(البارتی، ۷۸٦ هه:۱۱۵/۱۵)

ژباړه: وژنه د انسانانو هغې کړنې ته ویل کېږي، چې په وسیله یې انساني ژوند له منځه ځي.
د مهربانۍ وژنې لغوي معنا: چې په عربی ژبه کې ورته موت الرحمة وايي، د نرمي، خير، نعمت، نفع، سهولت، اساني، عوض، منفعت، شفقت، رحمت په معنا ده.( ابن منظور، ۱۹۹۰م:۱)
د مهربانۍ وژنې اصطلاحي معنا: د مهربانۍ وژنه هغه وژنې ته وايي، چې په ناروغ وژنه د شفقت له امله اسانه کړي، د دې په خاطر چې په ناروغ رنځ او زحمت کم کړی شي. (مرکزالفهد، ۱۴۰۴هه:۳۳-۳۴)

يا د مهربانۍ وژنه هغی وژنې ته وايي: چې ناروغ په دې خاطر له منځه وړي او وژني يې چې د ده وژنه اسانه شي (محمد، ۱۱۹۰م: ۱۹)، ځکه ناروغ په داسې ناروغۍ اخته وي، چې د درملنې هيله يې نه وي او د علاج کولو تمه يې هم نه وي؛ خو ډاکټر يا د ناروغ خپلوان او يا بل څوك داسې چلند ناروغ سره کوي، چې ناروغ له دغه درد او رنځ نه خلاص کړي او ارام شي د مهربانۍ له مخې. ( مشار، ۲۰۰م: ۱٦) پر مختللی علمي تعبير يې دادی: اسانه کول د وژنې د ناروغ کس دي، چې د درملنې هيله يې نه وي، د ناروغ د اصرار او غوښتنې په خاطر، چې په دوام داره توگه د ډاکټر نه غوښتنه کوي. ( البار ۱۹۹۰م: ۱۰۷ )

په عربي ژبه کې ورته د رحمت وژنه، د اساني وژنه، د شرافت وژنه، ښه او د نيکبختی وژنه، د ډاکټر وژنه او يا هغه وژنه، چې له درد او رنځ نه په اسانۍ سره ځان خلاص کړې وايي.( حجاحجة، ۲۰۰۹م: ۲۲۴)

د مهربانۍ وژنه نظريه لا پخوا نه موجوده وه.انگريزي فيلسوف روگي بيکون ويلي دي: په طبيبانو لازمه ده، چې داسې تدابير ونيسي، چې د ناروغانو صحت اعاده شي او دردونه يې کم شي؛ ليکن که چېرې يې داسې ناروغان پيداکړل، چې شفايې ممکنه نه وه او د جوړېدو هيله يې نه وه؛ نو په ډاکټرانو واجب ده، چې د هغوی لپاره د اسانه مرگ اسباب چمتو کړي؛ ځکه چې ډاکټرانو خپل ناروغان په تکليف کړي دي. په داسی حال کې چې دوی ښه پوهيږي، چې دا ناروغان نه جوړېږي؛ نو اړينه ده، چې ډاکټران دا دردونه ختم کړي او د پای ټکې ورته کېږدي.( قرضاوی، ب.ت : ۳۳)

همدغه نظريه لا پخوانيو يوناني فيلسوفانو په زمانه کې موجوده وه. مشهور فيلسوف افلاطون په خپل کتاب کې( جمهوريت) ليکلي دي: د هغو اشخاصو چې سلامتيا او صحت يې نيمگړى وي بايد هغوي مرگ ته پرېښودل شي.(عتيقة ب.ت: ٨٢) همدارنگه سقراط چې مشهور فيلسوف دى، دغه مړيني ته يې ابرو مندانه توگه (التدبير الذاتي للموت بشرف) د مړينې ذاتي تدابير ويلي دي او دا يې بيا په ځان تطبيق کړې ده. سقراط کله چې په زهرو ځېړنه کړې وه، په خپله خوښه يې هغه مهال وځښل چې د مړيني پرېکړه يې شوې وه، کله چې شاگردانو د زندان څخه د تښتيدلو لار ورته برابره کړه؛ نوموړي د تښتې لاره رد کړه او د ابرومندانه مرگ لاره يې غوره کړه،١٩٠٦ م کال امريکا يي قانون هر ناروغ ته، چې دشفا يا جوړېدو هيله يې نه يې، اجازه ورکړه چې خپل غوښتنه يو څلور نفري کميټې ته وړاندې کړي؛ لېکن دا نظريه بيا پارلمان رد کړه، په ١٩٦٧ برتانيا کې يو حرکت وشو، چې د مهربانۍ وژنې غوښتنه يې وکړه، په ١٩٨٢ کې برتانيا کې د مهربانۍ وژني يو کمېټه جوړه شوه ١٩٧٧ کال کې کليفورنيا قانون هر شخص ته د خپلې مړينې د نېټې د ټاکلو اجازه ورکړه په دې شرط چې اسانه به وي. فعلا په نړۍ کې توده موضوع، چې د حل او حرمت په تړاو يې بېلابيل نظريات موجود دي.( بلحاج، ١۴٢٠هه:۴٢)

**د مهربانۍ وژنې ډولونه:** د مهربانۍ وژنه په درې ډوله ده.

١- يو هغه وژنه ده، چې سبب او ذريعه يې طبيب او ډاکټر وي. کله ډاکټر کوښښ کوي، چې د ناروغ ژوندانه ته د پاى ټکى کيږدي او داسې گامونه واخلي، چې ناروغ نور مړ شي، د بېلگې په توگه لکه چې يو سړى د سرطان په ناروغي اخته وي، چې سخت درد او رنځ سره مخ وي، کله کله ان بيهوښۍ ته ولاړ شي او ډاکټر هم په دې باور وي، چې دا ناروغ نور نه جوړيږي او د جوړېدو تمه نه وي، غواړي ناروغ ته داسې درمل ور کړي، چې ناروغ له منځه يوسي او له درد او رنځ نه يې خلاص کړي او يا داسې قوي درمل ور کړي، چې ناروغ مړ کړي يا له اندازې زيات درمل ور کړي، چې د ناروغ د وژنې سبب شي.(قرضاوى، ١٩٢٦م:٣/٣٠۵-٣٠٦-٣٠٧)

٢- بل ډول يې دادى، چې يو سړى فلج وهلى وي او يا مغزي سکته کړې وي، آن چې څو ورځې له هرڅه نه لوېدلى وي، حرکت او خبرې نه شي کولاى، د بې هوښۍ په حالت کې وي او يا يې فشار صفر حالت ته رسېدلى وي، زړه يې کار نه کوي، په دې صورت کې چې ډاکټر ناروغ د جدي څارنې لاندې ونيسي کېداى شي ښه شي، مثلا چې ناروغ ته مصنوعي تنفس ور کړې او يا اکسيجن ور کړې او يا يې ښه څارنه وکړي، ولې ډاکټر په دې باور وي چې د دې ناروغ د جوړېدو تمه او هيله بالکل

نشته، په داسې حال که ډاکټر وغواړي په وسایلو او اسبابو سره تر یو وخته پورې شاید ژوندی پاتې شي او کله چې دغه وسایل لرې کړي، ناروغ به تنفس ونه کړي او یا به مړ شي، یا هغه اسباب پرې بند کړي، چې په معاصر طبابت کې ناروغ ته څه وخت ورکوي، لکه هغه اسباب چې پښتورگي په فعالیت را ولي یا هغه اسباب چې د زړه ضربات یي قوي کوي، یا هغه آله چې د زړه ضربات منظم کوي، یاهغه څه چې د زړه ضربات منظم کوي او یا یې هم په فعالیت را ولي او داسې نور.( قرضاوي، ۱۹۲۶م: ۳۰۷)

۳- داسې ناروغ وي، چې درملنه یې ممکنه نه وي؛ خو مړ کېږي هم نه، ځکه ناروغي یې پرله پسې وي، د رنځ درد هم ورسره جریان لري؛ خو د ژوند تمه یې نه وي، ډاکټر د درملنی درمل پرې و کړي، داسې علاج کله چې د ناروغ درمل کول، د هغه د ژوند د دوام لامل گرځي؛ خو ناروغي له منځه نه وړي او ناروغ داسې درمل سره عادت کړي، کله چې درمل پرېږ دي بیا مري.( المومني، ۲۰۰۸م:۲۲)

**د مهرباني وژنې لاملونه:** کله کله داسې هم وی، چې ډاکټر د ناروغ پایواز ته و وایي، چې ناروغ کور ته بوځئ. د دې علاج شونی نه دی؛ ځکه چې نه جوړېږي، یا داگټر ناروغ ته درمل نه ور کوي، نظر دا وایي چې ناروغ ته دوا مه ورکوئ.( المومني، ۲۰۰۸م:۲۱) کله داسې هم پېښېږي چې ناروغ ډاکټر ته ووایي، چې داسې درمل را کړه چې مړ شم؛ ځکه د رنځ او درد زور نه لرم، کله داسی هم پیښېږي، چې ناروغ په خپله درمل خواړه نه خوري وایي پریږده چې مړ شم. د دې ژوند نه خو مرگ زر ځله راته غوره دی، دې ته وژنه په امتناع سره وایي . مثلا ناروغ درمل پریږدي او وایي چې درمل را ځیني لرې کړئ، وایي درمل نه خورم دوا لري کړئ.( المومني ۲۰۰۸م: ۲۴)

کله داسې هم پیښیږي، چې د ناروغ خپلوان غواړي ناروغ له منځه یوسي، ناروغ خبر نه وي. ډاکټر ته چې داسې درمل ورکړه، چې نور ختم شي له ژوند یې بېزارکړي یوو، له پیسو نه یې هم خلاص کړو، کور کې ټول ور سره په تنگ راغلي وي.( قرضاوی ب.ت: ۵۲۵/۲) کله ډاکټر له ناروغ سره داسې حالت ته و رسیږي، چې ناروغ په تکلیف شي، چې هر څه درمل ور کوي گټه نه کړي، ناروغ یې په غاړه کې پروت وي، چاره نه لري مجبور علاج به کوي، باور یې دا وي چې نه جوړېږي په نتیجه کې داسې تصمیم نیسي چې ناروغ له منځه لاړ شي.( عتیقة، ب.ت :۸۲)

**د مهرباني وژنې شرعي حکم:** "لا یجوز قتل المریض الذي یأس من شفائه إشفاقا له أو لمنع انتقال مرضه إلی غیره، بل ویحرم علی المریض أن یقتل نفسه تخلصا من الألم والواجب علیه الصبر، ویحرم

على غيره قتله حتى لو أذن له في قتله، فالأول انتحار، والثاني عدوان على الغير بالقتل، وإذنه لا يحلل الحرام، فهو لا يملك روحه حتى يأذن لغيره أن يقضي عليها. فقتل الرحمة ليس من الحق، بل من المحرم قطعا وفقا للنصوص الشرعية.والواجب على الطبيب تقديم العلاج اللازم له والنتائج بعد ذلك على الله -عز وجل- وقد قرر المجمع الفقهي الإسلامي في دورته السابعة المنعقدة بجدة رفضه بشدة لما يسمى (قتل الرحمة)، بأي حال من الأحوال، وأن العلاج في الحالات الميئوس منها يخضع للتداوي والعلاج، والأخذ بالأسباب التي أودعها الله -عز وجل- في الكون. ولا يجوز شرعا اليأس من روح الله أو القنوط من رحمته، بل ينبغي بقاء الأمل في الشفاء بإذن الله."**(الطيار، ۱۴۳۳هه: ۱۴۴/۱۲)**

هغه ناروغ چې د جوړېدو هیله یې نه وي، وژل یې نه دي روا؛ بلکې په ناروغ حرام دي، چې خپل ځان مړ کړي، د دی په خاطر چې له درده په ارام شي، په ناروغ واجب ده، چې صبر وکړي او په بل چا هم حرام دي، چې ناروغ مړ کړي، حتی که ناروغ اجازه هم ور کړې وي، د اول (ناروغ) عمل ځان وژنه ده، د دویم(ډاکټر یا خپلوان د ناروغ) عمل تېری په غېر دی، په قتل سره، اجازه د ناروغ حرام نه شي حلالولی؛ ځکه چې ناروغ مالك د خپل نفس نه دی ترڅو بل چا ته وایي چې مړ مې کړه، د مهربانۍ وژنه هیڅ حقیقت نه لري؛ بلکې د شرعي نصوصو مطابق حرامه ده یقینا، په ډاکټر لازم دي چې علاج یې وکړې.(منظمة المؤتمرالإسلامي بجدة، ۱۹۹۲م: ۶۷/۲)

حكم إنهاء حياة المريض:"إذا كان المريض ميئوسا من علاجه، فلا يجوز لأحد أن يعطيه إبرة تقضي على حياته ليرتاح من عذاب المرض، والبعض يسمي هذا قتل الرحمة، وهو في الحقيقة ظلم وعدوان، وقتل عمد فيه القصاص، ومثل ذلك حقن المواد السامة في جسم المجنون أو المشلول ونحوهما، ليرتاح مما نزل به، ويرتاح منه أهله، فهذا كله وأمثاله من قتل العمد الذي يوجب القصاص، ومن التعدي على حدود الله بقتل خلقه." وقد قرر المجمع الفقهي الإسلامي في دورته السابعة المنعقدة بجدة رفضه بشدة لما يسمى (قتل الرحمة)، بأي حال من الأحوال، وأن العلاج في الحالات الميئوس منها يخضع للتداوي والعلاج، والأخذ بالأسباب التي أودعها الله -عز وجل- في الكون. ولا يجوز شرعا اليأس من روح الله أو القنوط من رحمته، بل ينبغي بقاء الأمل في الشفاء بإذن الله." (التويجري، ۲۰۰۹م:۳۹/۵)

مجمع الفقه الاسلامي په نهمه غونډه کې چې د جدې په ښار کی، په کال ۱۹۹۲ خپله پریکړه داسې صادره کړې ده: د مهربانۍ وژنه په هر حالت کې حرام او ناروا ده، په هغه حالت کې چې شفا څخه یې مایوس وي درملنه یې باید وشي او له اسبابو څخه کار واخیستل شي؛ ځکه د الله له رحمت څخه مایوسي جواز نه لري؛ بلکې د روغتیا امید به لري، په ډاکټرانو لازمه ده چې د ناروغ معنویات غښتلي

کړي، د هغه د دردونو د تخفیف کوښښ وکړي او هغه ته بشپړه تسلي ور کړي.( الطیار، **۱۴۳۳**هه: ۳۴۲/۱۲)

کله چې ناروغ د شفا څخه مایوسه وي هېڅا ته روان نه ده، چې هغه ته ستن ور کړي، چې ځان پرې مړ کړي د دی په خاطر چې له در ده په ارام شي او دا عمل د مهرباني وژنه ده بلکه په حقیقت کې دا ظلم او تېری او قصدي وژنه بلل کېږي.(التویجري، ۲۰۰۹م: ۵/ ۳۹)

۱- بناء هر هغه طرز او طریقه چې د وژنې داسانه کولو په خاطر د ډاکټرانو په وسیلې سره تر سره کیږي شرعا جواز نه لري؛ ځکه چې په دې صورت ډاکټر قصدا غواړي، چې ناروغ له منځه یوسي، د مهرباني وژنې چې اصلي لامل یې انسان دی، هدف یې د ناروغ خلاصول له دردونو څخه دي؛ ځکه داسې انګیرل شوي، چې پرته له مرګه څخه د در دونو څخه نه خلاصیږي، دا د ډاکټر لخوا یو مثبت عمل دی، چې د ناروغ د وژنې سبب ګرځي، چې دا قصدي وژنه یا قتل عمدي بلل کېږي ؛ ځکه چې دا د الله تعالی په حق تېری کول دي، په دې خاطر چې ژوند د الله رحمت دی چې انسان ته یي ور کړی، له بلې خوا صبر په مصیبتونو هم شرعی غوښتنه ده، د نا روغی پرمهال د ایوب علیه السلام صبر ښه بېلګه ده. الله پاک هغه په ناروغی سره و ازمایه د هغه دردونه خورا زیات او د اوږدې مودې لپاره و، هغه په خپله نا روغی صبر وکړ، تر دې چې د الله له لوري ورته خلاصون راغی. (قرضاوي، ۱۹۲٦م: ۳۰۷/۵)

ناروغ کله داسې نا هیلی وي، چې نور نه ښه کېږم ډاکټرانو هم جواب کړی وي، درمل هم ور باندی قطع کړي او ناروغ رخصت کړي او وایي چې نور زموږ کار نه دی، ناروغ د کوما حالت لاړ شي او بالاخره مړ شي، په داسې حال که هغه وسایل او اسباب بند نه کړي ناروغ نه مري دا عمل هم د ډاکتر جواز نه لري او قتل ګڼل کیږي ځکه چې که ډاکټر درمل نه وای بند کړي، ناروغ به تر یو وخته ژوندی پاتې و؛ خو کله چې وسایل بند کړل، ناروغ هغه شېبه مري. دا هم ناروا عمل دی قتل بلل کیږي او ډاکټر خپله شرعي وجیبه نه ده ادا کړی قاتل بلل کېږي. (قرضاوي، ۱۹۲٦م: ۳۰۷/۵)

ډاکټر مسؤلیت لري، چې ناروغ ته داسې لارې چارې وښایي، چې اسلامي شریعت کې جواز ولري، وظیفه او مسولیت د ډاکټر دا دی، چې په ناروغ دوا وکړي؛ ځکه چې په طبي اخلاقو کې ژوند ډېر مهم دی، د شفقت په نیت سره، باید په هېڅ صورت کې له لاسه ور نه کړل شي. د مهرباني وژنه اصلا له ناروغ سره دښمني ده او که چېرې ناروغ د ډېرې ناروغی او درمل له وجې نه داسې پرېکړه وکړي، چې نور درمل نه خورم او خواړه بالکل پرېږدي، په دې نیت او قصد چې ژر مړ شم، په داسی حال کې چې درملو او خوړو استعمال د ده په وجود مثبته اغېزه لري او نه خوړل منفی اثر لري، ناروغ

قصدا درمل خواړه پرېږدي، دا عمل هم شرعا جواز نه لري او ځان وژنه بلل کېږي، او یا ناروغ ډاګټر نه داسې غوښتنه وکړي، چې ماته داسې درمل را کړه، چې مړ شم، له ژوند څخه وژنه مرګ را ته غوره ده او ډاکټر هم د ده غوښتنه ومني، دا هم ناروا عمل دی، شرعا جواز نه لري. که خپله ناروغ عامل وي، ځان وژنه بلل کېږي او که چېرې ډاکټر عامل وي، همکار د قتل بلل کیږي.(عتیقة، ب.ت: ۸۲)

که چېرې دا عمل د ناروغ خپلوان تر سره کوي هم نا روا عمل دی، شرعا جواز نه لري؛ځکه چې کله د ناروغ ناروغي ډېره اوږده شي، کورنۍ او خپلوان یې په دې باور وي، چې د ا ناروغ نور نه جوړېږي او ناروغ هم د کوما په حالت کې پروت وي، په کورنۍ ناروغ بوج وي درمل هم ګټه نه لري، ناروغ ورځ تر بلې ناوړه حالت ته روان وي، نو د کورنۍ غړي او خپلوان یې تصمیم ونیسي، چې داسې درمل ور کړي، چې نور مړ او ختم شي، ډ اکټر ته ووایي، چې دې ناروغ ته داسې درمل ور کړه، چې نور ختم شي موږ هم په ارام شو او دی هم په ارام شي او یا درمل او وسایل د علاج پرې بندکړي او هم خواړه پرې قطع کړي، په دې خاطر چې په ناروغ شفقت او مهرباني وشي، چې له درد او رنځ نه یې خلاص کړي او کورنۍ هم له تکلیفه او رنځ نه خلاصه شي. دا عمل هم ناروا دی شرعا جواز نه لري. که د خپلوانو په ذریعه وي قتل بلل کیږي او که د ناروغ په وسیله وي، ځان وژنه بلل کیږي، چې دواړه شرعا ناروا عملونه دي شرعي مجوز نه لري.( عتیقة، ب.ت: ۸۲)

د مهربانۍ وژنه په هر حالت کې حرام او ناروا عمل دی، په هغه حالت کې چې د جوړېدو نه ناهیلی وي، درملنه د ورته وکړي؛ ځکه د الله له رحمت څخه نا هیلي شرعا جواز نه لري؛ بلکې د صحت تمه او هیله دې ولري. په ډاکټرانو او خپلوانو لازمه ده، چې د ناروغ معنویات غښتلي کړي د هغه د دردونو د تخفیف کوښښ وکړي او هغه ته دې بشپړه تسلي ور کړي؛ ځکه چې ناروغ ته جواز نشته چې خپل ژوند پای ته ورسوي؛ ځکه د ا ځان وژنه بلل کېږي او ځان وژنه په اسلامي شریعت کې ناروا عمل دی، چې شرعا جواز نه لري او که ډاکټر وغواړي چې د ناروغ په ختمولو کې ور سره مرسته وکړي، هغه قتل بلل کېږي او ګنهګار دی او د قتل احکام پري تطبیق کېږي؛ ځکه چې دا وژنه شرعا جواز نه لري، په دې خاطر چې دا د ناروغ وژنه په هر وسیله سره چې وي قتل شمېرل کېږي. ( البار، ۱۹۹۰م: ۱۱۰)،

که چېرې ډاکټر د ناروغ په غوښتنه ناروغ ته داسې درمل ورکړي، چې ناروغ له منځه یوسي په دې صورت د ناروغ عمل ځان وژنه بلل کیږي، ځکه چې ناروغ غواړي خپل ځان مړ کړي او د ډاکټر عمل مرسته په ځان وژنه کې بلل کیږي؛ ځکه چې مرسته په ځان وژنه کې هم ناروا عمل دی، چې

دواړه له جرمي اړخه نا روا عملونه دي شرعا جواز نه لري؛ ځکه چې ډاکټر ناروغ ته داسې تلقین وکړي، چې نه جوړېږي له دې نه چې زر مړشي، یا داسې درمل ور کړي چې ناروغ ژر له منځه یوسي، په ټولو صورتو کې ډاکټر مجرم ګڼل کېږي. د مهربانۍ وژنه او کمک په ځان وژنه کې دواړه په جرم کې برابر دي، ( عتیقة، ب.ت: ۸۲)

ژوند د انسان یو مقدس حق دی، هېڅوک نه شي کولای چې د یو چا ژوند بې موجبه له منځه یوسي، په داسې حال کې چې د مهربانۍ وژنه د انسان ژوند له منځه وړي، چې په اسلامي شریعت کې قتل بلل کېږي او قتل یو ناروا عمل دی جواز نه لري؛ خو د مهربانۍ وژنې په نامه په اسلامي شریعت کې هېڅ شي نشته، یعنې د مهربانۍ وژنه په اسلام کې هېڅ وجود نه لري، د ا یو غیر شرعي عمل دی چې جواز نه لري. (سید سابق، ۱۹۷۷م: ۳۴۲)

په اسلامي شریعت کې د ژوند حق خورا سپېڅلی دی، اسلامي شریعت پرته له حق څخه په انساني نفس تېری حرام ګر ځولی او دغه کړنه یې له لوړو مفاسدو او غټو ګناهونو څخه ګڼلې، تر دې چې د کفر څخه وروسته یو منکر عمل بلل شوی. په انساني نفس د تېري په هکله ګڼ شمېر آیتونو او حدیثو نه را غلي، چې دا کار یې حرام ګڼلی، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلاَ تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ﴾ سورةالانعام ۱۵۱ ، همدا وجه ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ( لا یحل دم امرئ مسلم یشهد آن لا اله الا الله و آني رسول الله الا باحدی ثلاث: الثیب الزاني النفس بالنفس والتارک لدینه المفارق للجماعة)(منظة الموتمر الاسلامي، ب.ت: ۱۷/۵)

ژباړه: د هغه مسلمان چې شاهدي ورکوي، د دې لپاره چې معبود یو الله دی او حضرت محمد د هغه رسول او استازی دی، د وینې تویول یا وژل روانه نه دي؛ خو په درېیو حالاتو کې : واده والا چې زنا وکړي، چا چې یو څوک ناحقه قصدا وژلی وي، څوک چې د اسلام دین څخه وتلي وي چې مرتد ورته ویل کیږي، ډاکټران مسؤلیت لري؛ ځکه چې په او سني پرمختللي عصر کې، کوم کارونه چې ډاکټران یې د انسان د حفاظت او پایښت لپاره په ویاړ سره کوي؛ هغه نو هر څوک نه شي کولای د بدن هغه اندامونه چې انسان ته تر ټولو نژدې کس ته یې د لیدلو حق نشته؛ خو اسلامی شریعت ډاکټر د علاج په خاطر د لیدلو حق ورکړی او ځکه چې د انسان ژوند د سالم بدن او سلیم عقل په لرلو سره اسلام ته تر هرڅه غوره او د قدر وړ دی. (مشار، ۲۰۰۹م: ١٦)

**ځان وژنه :** دا یو واقعیت دی چې ژوند یوازې د الله تعالی حق دی. له همدې کبله اسلام فرد باندې حرام کړی، چې خپل ځان هلاک کړي، یا خپل نفس د هلاکت ځای ته وغورځوي، دا رنګه یې ځان

وژنه حرامه کړې؛ د انسان ژوند د ده ملکیت نه دی، بلکې د ده د خالق ملکیت دی، په ګڼ شمېر آیتونو او آحادیثو کې، د ځان وژنې څخه منعه راغلې او هم یې د فاعل سره د سخت عذاب ژمنه شوې ۱۰ الله تعالی فرمايي:﴿ وَلاَ تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴾سورة البقرة ۱۹۵ .

ژباړه: مه غور ځوئ خپل ځانونه په هلاکت کې او نیکې کوئ بیشکه چې دوستي کوي له نیکو کا رانو سره، بل ځای فرمایي: ﴿ وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴾ سورة النساء ۲۹ .

ژباړه: مه وژنئ تاسې خپل ځانو نه بیشکه الله تعالی ډېر مهربان دی پر تاسې باندې.

**د مهربانۍ وژنې د مر تکبینو جزا او سزا:** اسلامي شریعت هغه قاتل ته چې په ناحقه سره یو څوک وژني، دوې خورا درندې جزا وې ټاکلې دي:

**یوه اخروي جزا ده:** چې هغه جهنم کې زیات وخت پاتې کېدل. په هغه باندې د الله غضب او لعنت او دروند دردناک عذاب دی؛ څکه چې الله تعالی فرمايي:﴿ وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴾ سورة النساء ۹۳ .

ژباړه: هر څوک چې مړ کړي مؤمن په قصد سره نو جزا یې دوزخ دی، تل به وي په (دوزخ) کې او غضب کړی دی الله په ده باندې او لرې کړی دی، له خپل رحمت څخه او تیار کړی یې دی، ده ته عذاب ډېر لوی، الله تعالی بل ځای فرمایي: ﴿ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا ﴾سورة المائدة ۳۲ .

ژباړه: څوک چې ووژني یو نفس بې له بل نفس نه له فساده په ځمکه نو ګواکې وژلي یې دي خلک ټول.

مفسرین وايي، چې هر چا چې یو مسلمان قصدا قتل کړ؛ نو د اوسیدو ځای او جزایي فقط اور د جهنم دی او کچېرته سهواً د یو چا د لاسه قتل وشو او توبه یې وویستله او قصاص او دیت یې ورکړ، الله تعالی غفور، رحیم او مهربان دی پخپلو بندګانو مغفرت به ورته نصیب کړي.

**دنیوي جزا** : دنیوي جزا یې دا ده، چې د هغه قاتل قصاص او یا هم دیت ور څخه واخیستل شي؛ څکه الله تعالی فرمایي :{ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى} سورة البقرة: ۱۷۸.

ژباړه: ائ هغو کسانو چې ایمان مو را وړی فرض کړی شوی دی په تاسو باندی په وژلي شوي کې اصیل په اصیل باندې او مریی په مریي باندې او ښځه په ښځه باندې.

که چېرې ناروغ په قصدي توګه په قتل ورسیږي، د اسلامي شریعت د حکم پر اساس، قاتل هغه وخت قصاص کېږي، چې لاندې شرطونه یې پوره کړې وي: قاتل به عاقل او بالغ وي، وژونکي به په قصدي توګه جرمي کړنه ترسره کړې وي، جرمي کړنه کې به شبه نه وي. که چېرې کومه شبه په کې پیدا شي، په داسې وخت کې قصاص نه تطبیق کېږي؛ بلکې تعزیري جزاء به ورکول کېږي، قاتل به په خپله خوښه او اراده جرمي کړنه ترسره کړې وي، که چېرې د جبر او اکراه په وجه یې تر سره کړی وي، په دې وخت کې بیا قصاص نه تطبیق کېږي، د هغه قصدي قتل قاتل قصاص کېږي، چې قاتل د قتل جرمي کړنه بالفعل ترسره کړې وي، که چېرې د یو شخص کړنه د دې سبب شوې وي، چې کوم شخص پرې خپل ژوند له لاسه ورکړی وي، دا ډول قتل ته قتل بالسبب وایي، یعنې د یو شخص کړنه ( لاره کې کوهې ویستل، ډبره کېښودل ) د بل شخص د وژلو سبب شوی وي په دې ډول قتل کې قصاص نشته، د مقتول ورثې ته به دیت ورکول کېږي. (الکاسانی، ب.ت:۱٦/۳۰۰-۲۸۲)

**پایله**

۱- د مهربانی وژنه که د ناروغ په وسیله وي که ډاکټر په وسیله وي او که د ناروغ د خپلوانو په وسیله وي، حرامه ده شرعاً جواز نه لري.

۲- د مهربانی وژنه یوه معاصره موضوع ده، اصلا په کفري نړۍ کې پیدا شوې هلته چې اسلامي او دیني عقیده او باور وجود نه لري .

۳- په اسلامي شریعت کې، د مهربانی وژنه هېڅ شرعي اصل نه لري او دا پرنفس تېری دی که د ناروغ رضایت وي او کنه او ناروا عمل یي بولي.

۴- رضایت د ناروغ په وژنه کې شبه پیدا کوي او شبه قصاص له منځه وړي، په دې صورت کې په قاتل دیت لازمیږي.

۵- ناروغي او شفا دواړه د الله تعالی له لوري دي، انسان د ناروغي په حالت کې علاج او درملنه باید وکړي او هېڅکله د الله تعالی له رحمت څخه نا هیلی نه شي.

٦- ډاکټر که د ناروغ په مقابل کې خپل شرعي مسولیت ادا نه کړي او د طبابت د اصولو خلاف عمل وکړي مسول بلل کیږي.

۷- هغه ناروغان چې په ناعلاجه رنځ اخته وي او د مايوسی په حالت کې وي، بايد علاج او درملنه يوازينۍ لاره د شفا لپاره غوره کړي او له اسبابو څخه کار واخلي د الله تعالی له رحمت ته نا اميده نه شي او په الله تعالی توکل وکړي.

۸- اسلامي شريعت هر نوعه وژنه که د مهربانۍ وژنه وي او که نورې وژنې دي، ټولې حرامي گرځولې، کوم چې د شريعت له چوکاټه بهر وي.

۹- اسلامي شريعت د انساني ژوند ملاتړی او ساتونکی دی.

۱۰- د مهربانۍ وژنه په اصل کې د شفقت،زړه سوي، همکاري، مهرباني او ترحم په نوم د انسان ژوند له منځ وړل دي.

**أخځلکونه**

قرآن کريم.

ابن فارس، آحمد بن فارس زکريا،(۱۹۴۰م)، **معجم مقاييس اللغة**،دار الفكر، بيروت، لبنان، ص ۴۴۶.

ابن منظور محمد بن مكرم الافرقي المصري.(۱۹۹۰)، **لسان العرب** دارالفكر، بيروت ،لبنان، ص۱.

أحمد محمد خلف المومني، (۲۰۰۸م)،**القتل المريح بين الشريعة والقانون**، المجلة الأردنية في الد ا رسات الإسلامية، جامعة آل البيت، الأردن ص۲۲.

آسئلة عن اداب الطب اللإسلامي، **قسم الطب الاسلامي**، مركزالملك فهد للبحوث الطبية١٤٠٤ ص۳۳-۳٤.

البار، محمد علي، (۱۹۹۰م) **آحكام التداوي والحالات المئيوس**، دارالمنارة، جدة،ص ۱۱۰-۱۰۷ – ٦٨ .

البابرتي، محمد بن محمد، (۷۸٦هـ). **العناية شرح الهداية**، بيروت لبنان، دار الكتب العلمية، ج۱۵، ص۱۱۵

التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله،( ١٤٣٠ هـ - ۲۰۰۹ م) **موسوعة الفقه الإسلامي**،الناشر: بيت الأفكار الدولبة الطبعة: الأولى، ج ۵ ص۳۹ .

الحموي، أحمد بن محمد بن علي الفيومي، (۷۷۰هـ). **المصباح المنير في غريب الشرح الكبير**، مصر، مكتبة الاميرية،ج۷، ص۳۱۳.

حجاحجة، جابر اسماعيل،(۲۰۰۹م) ،**القتل بدوافع الشفقة**، ص ۲۲۴.

حماد، عبد الكريم حمزة حماد، (۲۰۰۷)، **قتل الرحمة، رؤية فقهية مقاصدية**، مجلة دا رسات علوم الشريعة، والقانون، الجامعة الأردنية، الأردن، ص۳۹۹.

داكتر بلحاج العربي بن احمد(١٤٢٠هه)،**مجلة البحوث الفقهية المعاصرة**، گنه ۴۲ کال ۱۴۲۰ هجري.

**سيد سابق،( ۱۳۹۷ هـ - ۱۹۷۷ م)**، فقه السنة،**الناشر: دار الكتاب العربي، بيروت، لبنان الطبعة: الثالثة، ص ۳۴۲.**

الطيار، عَبد الله بن محمد،(١٤٣٣هه) **الفِقهُ الميَسَّر**, الناشر: مَدَارُ الوَطن للنَّشر، الرياض - المملكة العربية السعودية, الطبعة: الأولى. ج١٢ ص ١٤٤.

عتيقة، بلجبل،(ب ت)، **القتل الرحيم بين الإباحة والتجريم**، مجلة الفكر، جامعة بسكرة، الجزائر.ص٨٢.

قرضاوي, داكتر يوسف،(پ ت) ،**قتل الرحمه حقيقته وحكمه.**

قرضاوي، داكتر يوسف،( ١٩٢٦م )، **ديدگاههاى فقهى معاصر**،تهران، احسان، ترجمه: داكتر احمد نعمتي،ج٣ ص٣٠٥ -٣٠٧-٣٠٦.

قرضاوي،دِاكتر يوسف، (ب ت)، **فتاوى معاصر**،ج٢ ص ٥٢٥.

الكساني, علاء الدين,(ب ت), **بدائع الصانع في ترتيب الشرا ئع** ، دون طبعة؛ دار إحياء التراث العربي، لبنان، دون سنة النشر. ج١٦ ص ٣٠٠-٢٨٢.

محمد, عبدالجواد،(١١٩٠م) **بحوث فى الشريعة الاسلامية والقانون**،منشاء المعارف بالاسكندرية،هدى حامد قشقوش، ص١٩.

مشار، عمر بن عبدالله بن مشاري السعدون،( ٢٠٠٩م) ،**القتل الرحيم**, د طبعى خاي رياض،ص١٦.

**مجلة مجمع الفقه الإسلامي التابع لمنظمة المؤتمر الإسلامي بجدة (ع ٢/ ٦٧ / ٥/ ١٧).**

**النيسابوري, مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري(ب ت), صحيح مسلم ,الناشر : دار إحياء التراث العربي, بيروت, تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي, ج٣ ص ١٣٠٢ رقم ١٦٧٦.**